# د اسلامي دين اصول او ضروري مسائل
# په سوال او جواب کي


ليکنه

**د. عمر بن عبد الرحمن بن محمد العمر**

امام محمد ابن سعود اسلامي پوهنتون کي دقضا دعالي انسټيټوټ استاذ



پشتو ژباړنه

**منيب الرحمن علي خان**

د رياض ښار په ثمامه کي د دعوت او ارشاد دفترسره همکار



مراجعه او تصحيح

**د. عبد النافع زلال عبد الوهاب**

امام محمد ابن سعود اسلامي پوهنتون کي دقضا دعالي انسټيټوټ استاذ

ردمك:

# د مترجم مقدمه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:**

دا يوه مختصره رساله ده چې دكتور (**عمر بن عبد الرحمن العمر**) ليكلې ده، او په هغې كې يې داسلامي دين عقيده وي اصول او دتوحيد مهم مسائل، او همدارنګه دمانځه، روژې، زكات، او حج ضروري مسائل بيان كړيدي، چې ددې اصولو او ضروري مسائلو زده كړه هر مسلمان ته ضروري او حتمي ده، ترڅو دخپل دين په احكامو او مسائلو باندې پوهه وي، او په هغې باندې عمل وكړي.

په دې رساله كې دعقيدې مسائل دسلفو دامامانو په وړاندې متفق عليه مسائل دي، او بالخصوص څلور امامان ټول په همدې عقيده دي، او په هغې كې كوم لوى اختلاف نلري.

خـو پـه ځينـي فقهـي مسـائلو كـي چـي دعلمـاوو اخـتلاف دى، نـو هغـه مسـائل بـه هـر څـوك دامامـانو او علمـاوو داجتهـاد مطـابق د دليـل پـه اسـاس چـي كـوم غوره ګڼي په هغې سره به عمل كـوي، او پـه هغـي كـي به له تعصب كولو نه ډډه كوي اوځان به ساتي.

الله تعـالى دي دا رسـاله دلوسـتونكو لپـاره ګټـوره وګرځـوي، او مؤلـف تـه دي ددي عوضـونه او اجرونـه پـه دنيـا او اخـرت كـي وركـړي. او الله تعـالى دي لـه مانـه هـم دا دترجمـي معمـولي غونـدي خـدمت قبـول كـړي، او هغـه ورونـه چـي ددي كتـاب د ترجمـي پـه تصـحيح كـي يـي لـه ماسـره مرسـته كـړيـده رب العـالمين دي ترينـه راضي شي سره زما.

**وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين**

**منيب الرحمن علي خان**
**د دعوت او ارشاد دفتر سره**
**په رياض ښار ثمامه كي**
**متعاون او همكار**

## تقريظ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:**

د «**إرشاد الأنام إلى أصول ومهمات دين الإسلام**» په نوم دا كتاب ما وكتلو، كوم چې دكتور (**عمر بن عبد الرحمن العمر**) تيار كړى دى، يو وركوټى شان كتاب دى خود توحيد او د اهل سنت والجماعت دعقيدي ډيري مهمي مسئلي يي راغونډي كړيدي، او د اودس، مونځ، زكات، روژي، اودحج احكام هم ورسره په ډير اختصار بيان شوي دي.

او بهتره (غوره) به وي چې دا كتاب نورو ژبو ته هم وژباړل (ترجمه) شي؛ چې په عربى ژبه نه پوهيدونكي خلك تري هم فائده واخلي. **وصلى الله وسلم على نبينا محمد.**

**والسلام علكيم ورحمة الله وبركاته**

**د سعودي عرب ستر (لوى) مفتي**

دسترو علماوو دشورا رئيس او دعلمي بحثونو او فتواګانو عام رئيس

عبد العزيز بن عبد الله بن محمد آل الشيخ

## تقریظ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**الحمد لله وبعد:** ما د شیخ (**عمر بن عبد الرحمن العمر**) کتاب مطالعه کړو چې نوم یې «**إرشاد الأنام إلى اصول ومهمات دين الإسلام**» دی، سره د ډېر مختصر والي نه ماته ډېر فائده مند او غوره ښکاره شو، الله تعالی دي ورله بدله د خیر ورکړي، او دا کتاب دي فائده مند او ګټور وګرځوي.

**وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه**

**لیکونکی**

صالح بن فوزان الفوزان

دسترو علماوو دشورا غړی

١٤٣٧/٢/١٠هـ

## د مؤلف مقدمه

**الحَمْـدُ للهِ الّـذِيْ هَـدانا للتَّوْحِيْـدِ والسُّـنَّةِ، والصَّـلاةُ والسَّـلامُ عَلـى نَبِـيِّ الهُـدَى والرَّحْمَـةِ، نَبِيِّنـا مُحَمَّـدٍ وعَلـى آلِـه وصَـحْبِهِ، أمّـا بَعْـدُ:** يقينـا چـي د ديـن داصـولو او عقيـدي زده كـړه ډيـر ارزښـتناك كـار او د ديـن لويـه فريضـه ده، ترڅـو د بنـده عقيـده داسـې جـوړه شـي چـي بالكـل صـحيح وي، او داسـې عبـادت وكـړي چـي خـالص د الله تعـالی د رضـا لپـاره وي او دنبـي عليـه الصلاة والسلام د شريعت او سنتو موافق وي.

نـو پـه دې خـاطر مـې دقـرآن او حـديث پـه رڼـا كـې دا يـو مختصـر كتـاب وليكلـو، او پـه دې كـې مـا د امـت د علمـاوو او امامـانو د مهمـو كتـابونو څخـه اسـتفاده او اخسـتنه كړيـده. او «**إرشـاد الأنـام إلى أصـول ومهمـات ديـن الإسـلام**» نـوم مې ورلـه كيښـودلو، يعنـي د اسـلامي ديـن اصـول او پـه هغـې كـې مهمي او ضروري خبرې خلكو ته ښودل.

او بيـا مـې دا كتـاب پـه بـابونو تقسـيم كـړی دی، د سـوال او جـواب پـه شـكل كـي؛ پـه دې خـاطر چـې د پوهيـدلو لپـاره اسـان وي، او بنده وربانديې صحيح پوهه شي.

د الله تعـالی نـه سـوال كـوم چـي دا كتـاب خـالص د خپلـي رضا لپاره، او د خلكو لپاره فائده من وګرځوي.

**وصلى الله وسلم على نبينا محمد**

## باب دی په بیان د دري أُصولو کي

**سوال۱: هغه کوم دري اصول دي چي د هغې پېژندل په هر يو مسلمان سړي او مسلمانه ښځه باندې واجب دي؟**

**جواب:** هغه دري اصول دادي:

١- د خپل رب پيژندل.

٢- د خپل دين پيژندل.

٣- او دخپل نبي صلى الله عليه وسلم پيژندل.

---

**سوال۲: ستا رب څوك دی؟**

**جواب:** زما رب هغه ذات دی چي زما او دټول عالَم تربيت يې په خپلو نعمتونو سره کړی دی، هم هغه زما لپاره لائق دعبادت دی، نه بل څوك.

---

**سوال۳/ تا خپل رب په څه سره پيژندلی دی؟**

**جواب:** ما خپل رب دهغه په نښو او دهغه په مخلوقاتو سره پيژندلی دی، د هغه د نښو نه شپه او ورځ، لمر او سپوږمی، او دهغه د مخلوقاتو نه اوه ځمکي او اوه آسمانونه، او هغه څه چي په دې کي او ددې دواړو په مينځ کي دي.

**سوال٤: ستا دين څه دی؟**

**جواب:** زما دين اسلام دی، او هغه غاړه کيښودل دي الله تعالی ته د هغه په يو والي سره، او تابع کيدل دي د هغه په اطاعت سره، او بيزاره کيدل دي د شرك او دشرك والاوو نه.

---

**سوال٥: دين څو مرتبې لري؟**

**جواب:** دين درې مرتبې لري:

١- اسلام. ٢- ايمان. ٣- احسان.

---

**سوال٦: ستا نبي څوك دی؟**

**جواب:** زما نبي محمد صلی الله عليه وسلم دی، چې هغه د عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم ځوی دی، او هاشم د قريشو نه دی، او قريش بيا د عربو دقبيلو نه يوه قبيله ده، او عرب د اسماعيل بن ابراهيم عليهما السلام اولاده ده.

## باب دی په بیان د ارکانو د اسلام او په معنی دکلمه دشهادت کي

**سوال٧: د اسلام څو ارکان دي؟**

**جواب:** د اسلام پنځه ارکان دي، هغه دادي:

١- ګواهي ورکول د «**لا إلـهَ إلا اللهُ مُحَمَّدُ الرَّسُوْلُ اللهِ**» يعني نشته دی لائق د عبادت مګر يو الله تعالی دی، او يقينا چي محمد صلی الله عليه وسلم د الله تعالی رسول دی.

٢- مونځ اداکول.

٣- زکات ورکول.

٤- روژه نيول.

٥- حج د بيت الله کول، چي د چا په وس کي وي.

---

**سوال٨: د «لا إلهَ إلا الله» څه معنی ده؟ او په کوم دليل سره؟**

**جواب:** د «**لا إلهَ إلا الله**» معنی ده: نشته دی لائق د عبادت په حقه، مګر يو الله تعالی دی.

او په دې معنی دليل د الله تعالی دا قول دی: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِيُّ

**ﭐلۡكَبِيرُ﴾** [الحج: ٦٢]. ترجمه: (دا دليل دى په دې خبره چې الله تعالى حق دى، او هغه څه چې دوى يې رابلي بغير د الله تعالى نه هغه ټول باطل دي، او يقينا همدا الله تعالى خاوند د اوچت والي او د لوى والي دى).

---

## سوال۹: د «لا إلـهَ إلا الله» څو اركان دي؟ او په كوم دليل سره؟

**جواب:** اركان د «**لا إلـهَ إلا الله**» دوه دي.

**اول:** نفي، يعني نشتوالى په قول د «**لا إله**» كې.

**دويم:** اثبات، يعني شته والى په قول د «**إلا الله**» كې.

او دا په دليل ددې قول د الله تعالى سره: ﴿**فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ**﴾ [البقرة: ٢٥٦].

ترجمه: (نو هغه څوك چې انكار يې وكړو د بندګۍ د غير الله نه، او يقين يې وكړو په الله تعالى، نو يقينًا راټينګه كړه ده هغه كړۍ مضبوطه).

نو دا قول دالله تعالى: ﴿**فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ**﴾ دليل د نفي دى، او وروسته بيا دا قول د الله تعالى: ﴿**وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ**﴾ دليل د اثبات دى.

**سوال۱۰: د «لا إلهَ إلا الله» څو شرطونه دي؟**

**جواب:** د «**لا إلهَ إلا الله**» اته شرطونه دي:

۱- علم. ۲- يقين.

۳- اخلاص. ٤- صدق.

٥- محبت. ٦- انقياد (غاړه کيښودل).

۷- قبول. (قبلول). ۸- بغير د الله تعالى نه د نورو معبوداتو (رابلونکو) نه انکار کول.

---

**سوال۱۱: د شهادت کلمه دڅه شي تقاضا (غوښتنه) کوي؟**

**جواب:** د شهادت کلمه د دوه شيانو غوښتنه (تقاضا) کوي:

۱- يوازي په يو الله ايمان لرل او په اخلاص سره د هغه عبادت کول. (دا غوښتنه (تقاضا) د اثبات ده).

۲- د الله تعالى نه بغير په هر معبود کفر کول، يعني د هر معبود نه انکار کول، او د شرک او مشرک نه بيزاره کيدل، او د نواقضو د دين نه ځان ساتل، يعني هغه خبري يا کارونه چي دهغي په کولو سره مسلمان د اسلام نه خارجيږي. (دا غوښتنه (تقاضا) د نفي ده).

**سوال۱۲: د «مُحمّدٌ رَّسُولُ الله» د ګواهۍ څه معنی ده؟**

**جواب:** د «مُحَمّدٌ رَّسولُ الله» د ګـواهۍ معنـی داده: چـي پـه ښکاره او په پټه ددې خبرې اقرار کول چـي محمـد -صـلی الله عليه وسلم- د الله تعالی بنده او ټولو خلکو ته د الله تعالی استازی (رسول) دی، او په رسولانو کي اخرنی رسول دی.

---

**سوال۱۳: د «مُحَمّدٌ رَّسُولُ الله» د ګواهۍ څه تقاضا (غوښتنه) ده؟**

**جواب:** د «مُحَمّدٌ رَّسولُ الله» د ګواهۍ غوښتنه (تقاضا) دا ده چي د هغه د امرونو تابعداري، او د خبرو او ويناوو تصـديق وشي. او هغه چي د کومو شيانو نه منع فرمايلي ده د هغې نه ځان منع کـړی شـي، او د الله تعـالی عبـادت هـم د هغـه پـه طريقه وکړی شي.

## باب دی په بیان د ارکانو د ایمان او دهغې په فائدوکي

**سوال١٤: د ایمان څو ارکان دي؟**

**جواب:** د ایمان شپږ ارکان دي:

١- په الله تعالی ایمان لرل. ٢- په ملائکو ایمان لرل.
٣- په کتابونو ایمان لرل. ٤- په رسولانو ایمان لرل.
٥- په اخرت ایمان لرل. ٦- د الله تعالی د طرف نه د خیر او شر په تقدیر ایمان لرل.

---

**سوال١٥: په الله تعالی باندې د ایمان لرلو څه معنی ده؟**

**جواب:** په الله تعالی باندې د ایمان لرلو معنی دا ده چې: د الله تعالی د موجوداوالي پوخ تصدیق کول، او د الله تعالی د ربوبیت، الوهیت، او دهغه د نومونو او صفتونو اقرار کول.

---

**سوال١٦: په الله تعالی د ایمان لرلوڅه فائده ده؟**

**جواب:** په الله تعالی د ایمان لرلو ډیري فائدې دي چې بعضي د هغې نه دادي:

**اول:** د الله تعالی توحید په ځای کول چې عبادت دي یوازي هم دده لپاره وي، او ده سره دي شریک نه وي.

**دويم:** د هغه پوره محبت او لوی والی او د هغه نه ويـره حاصليدل، لکه څرنګه چي د هغه دښايسته نومونـو او وچتـو صفتونو غوښتنه (تقاضا) ده.

**دريم:** دهغه د عبادت غوښتنه په ځاي کول، چي د امرنو (اوامرو) منل (اطاعت) يي وشي او د منعه شوو (نواهيـو) نـه يي پرهيز وشي.

---

## سوال١٧: په ملائکو د ايمان لرلو څه معنی ده؟

**جواب:** په ملائکو د ايمان لرلو معنی داده چـي: د ملائکـو د موجودوالي پوخ (کلک) تصـديق کـول، او دا چـي دوی د الله تعالی عزتمند مخلوق دی، او د الله تعالی د امـر نافرمـاني نه کوي، او هغه کار کوي د کوم چي ورته امر شوی وي.

نو مونږ ايمان لرو په هغـه ملائکـو د کومـو نومونـه چـي الله تعالی ذکر کړي دي لکه: جبرائيل، ميکائيـل او اسـرافيل، او هم په هغه ملايکو چي د کومو نومونه يي نه دي ذکر کړي.

---

## سوال١٨: په ملائکو باندي د ايمان لرلو څه فائده ده؟

**جواب:** په ملائکو باندي د ايمان لرلو ډيري فائدي دي چـي بعضي د هغي نه دادي:

**اول:** د الله تعالى په لوى والي، او طاقت، او قدرت باندې پوهه راتلل.

او يقينا چي د مخلوق لوى والى د خالق په لوى والي باندې دلالت كوي.

**دويم:** د بنده د حفاظت لپاره د ملائكو مقررول د الله تعالى په مهربانۍ باندې د شكر كولو او هغه سره د محبت ذريعه گرځي.

**دريم:** د ښو كارونو سره مينه او د بدو كارونو نه ويره پيداكيدل، ځكه چي الله تعالى هم د دغه ملائكو نه څه ملائك د انسانانو د ښو او بدو اعمالو په ليكلو مقرر كړي دي.

---

**سوال۱۹: په كتابونو باندې د ايمان لرلو څه معنى ده؟**

**جواب:** په كتابونو باندې د ايمان لرلو معنى داده چې: كوم كتابونه الله تعالى په خپلو رسولانو باندې نازل كړي دي د هغې پوخ تصديق كول چي دا د الله تعالى كلام دى، حق دى، او رښا ده.

نو مونږ ايمان لرو په هغه كتابونو دكومو نومونه چي الله تعالى ذكر كړي دي لكه: قرآن، تورات، انجيل، او زبور، او هم په هغه كتابونو چي نومونه يې نه دي ذكر كړي.

**سوال٢٠: په کتابونو باندې د ايمان لرلو څه فائده ده؟**

**جواب:** په کتابونو باندې د ايمان لرلو ډېرې فائدې دي چې بعضې يې د هغې نه دا دي:

**اول:** په دې خبره پوهيدل چې الله تعالى د خپلو بندګانو حفاظت اوساتنه کوي، او همدغه رنګې چې الله تعالى د هر قوم د هدايت لپاره کتاب نازل کړى دى.

**دويم:** په دې خبره پوهيدل چې الله تعالى د حکمت والا ذات دى په هغه څه کې چې ده مقرر کړې دي، چې د هر يو قوم لپاره يې دهغوى د حالاتو مناسب دين مقرر کړى دى. لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ [المائدة: ٤٨]. ترجمه: (د هرچا لپاره مقرر کړى دى مونږ (دا قرآن) شريعت او لويه لاره).

**دريم:** شکر ويستل د الله تعالى په نعمتونو چې ده ته ښکاره دي.

**څلورم:** د الله تعالى عبادت کول په پوره پوهې سره چې د هغه په نازل شوي کتاب کې وي، او دهغه د رسول په طريقه وي.

## سوال۲۱: په رسولانو باندې د ايمان راوړلو څه معنی ده؟

**جواب:** په رسولانو باندې د ايمان راوړلو معنی دا ده چې: په يقيني طور سره د ټولو رسولانو، او د هغوی د خبرو تصديق کول، نو مونږ په هغه رسولانو باندې ايمان لرو دکومو چې الله تعالی نومونه ذکر کړي دي، لکه نوح، ابراهيم، موسی، عيسی او محمد عليهم السلام او هم په هغه رسولانو باندې چې نومونه يې نه دي ذکر شوي.

---

## سوال۲۲: په رسولانو باندې د ايمان لرلو څه فائدې دي؟

**جواب:** په رسولانو باندې د ايمان لرلو ډېرې فائدې دي چې بعضې يې دهغې نه دادي:

**اول:** په دې خبره پوهيدل چې الله تعالی په خپلو بندګانو مهربان او د هغوی ساتونکی دی؛ نو ځکه يې د هغوی سمې لارې او صحيح دين ته د هدايت کولو لپاره رسولان راليږلي دي.

**دويم:** په ښه طريقه (توګه) د کتاب اوسنت مطابق د الله تعالی عبادت کول.

**دريم:** د رسولانو عليهم السلام سره محبت او د هغوی احترام او د هغوی د شان مطابق د هغوی صفت کول.

**څلورم:** په دې لويو نعمتونو د الله تعالی شکر ادا کول.

**سوال۲۳: په آخرت د ایمان لرلو څه معنی ده؟**

**جواب:** په آخرت د ایمان لرلو معنی داده چې: تصدیق کول د هغه ورځي چي الله تعالی به ټول خلک د حساب او جزاء لپاره په یقیني طور سره راپورته کړي.

---

**سوال۲٤: د آخرت په ورځ د ایمان لرلو څه فائدې دي؟**

**جواب:** د آخرت په ورځ د ایمان لرلو فائدې ډېري دي چي بعضي یې د هغې نه دادي:

**اول:** د آخرت د ورځي د اجر په امید د نیکو کارونو او طاعتونو سره مینه پیداکیدل.

**دویم:** د آخرت د ورځي د عذاب نه د ویریدو په وجه د نافرمانی کولو نه ځان ساتل او په هغې نه راضي کیدل.

**دریم:** د دنیا د فاني نعمتونو نه محروم کیدلو باندې د آخرت د نه ختمیدونکو نعمتونو په اُمید د مؤمن لپاره تسلي.

---

**سوال۲٥: د خیر او شر په تقدیر باندې د ایمان لرلو څه معنی ده؟**

**جواب:** د خیر او شر په تقدیر باندې د ایمان لرلو معنی دا ده چې: په یقینی طور باندې ددې خبرې تصدیق چي هر خیر او شر د الله تعالی په فیصله او تقدیر سره کیږي، او دغه الله

د هر کار کونکی دی د کوم کار اراده چي وکړي، او کوم کار چي وغواړي هم هغه کيږي، او کوم کار چي ونه غواړي هغه نه کيږي.

---

**سوال٢٦: د خير او شرپه تقدير باندې د ايمان لرلو څه فائدې دي؟**

**جواب:** په تقدير باندې د ايمان لرلو ډېري فائدې دي چي بعضي د هغې نه دادي:

**اول:** په الله تعالى باندې توکل، او د ټولو اسبابو د استعمالولو په وخت کي په هغه اعتماد کول، ځکه چي هغه مسبِّبُ الأسباب دی، او هر شی د هغه په تقدير سره کيږي.

**دويم:** په بنده چي د الله تعالى د تقدير په وجه کوم کارونه کيږي په هغې مطمئن او راضي کيدل، او د خوښ شي نه په محروم کيدلو او د بد شي په واقع کيدلو نه خفه کيدل.

**دريم:** ثابت قدمي او د زړه اطمئنان او په پوخ (کلک) يقين سره دتکليفونو سره مخامخ کيدل، او د الله تعالى له طرف نه په هر قسمه راتلونکو مشکلاتو کي راضي پاتي کيدل.

**څلورم:** د خپل مقصد په پوره کيدلو په خپل ځان نه

غَرَه کيدل، ځکه چي د دغه شي حاصليدل د الله تعالى په تقدير او توفيق او فضل سره کيږي.

## باب دی په بیان د احسان او د هغې په فائدوکي

### سوال٢٧: د احسان څه معنی ده؟

**جواب:** د احسان معنی داده چې: د الله تعالی عبادت په داسې طریقه کول ګویا چې ته الله تعالی وینې، او که ته هغه نه وینې نو الله تعالی خو تا وینې.

---

### سوال٢٨: د احسان څو مرتبې دي؟

**جواب:** د احسان دوه مرتبې دي:

**اوله مرتبه:** د زړه حضور او مشاهده، هغه داسې چې بنده په داسې طریقه د خپل رب عبادت وکړي ګویا چې دی الله تعالی وینې، نو دا په دې دواړو مرتبو کې اعلٰی مرتبه ده.

**دویمه مرتبه:** هغه مرتبه د مراقبې ده، هغه په داسې طریقه چې بنده په دې پوهه شي چې دی هر عمل په هر ځای کې کوي نو الله تعالی یې وینې.

---

### سوال٢٩: د احسان څه فائدې دي؟

**جواب:** د احسان ډېرې فائدې دي چې بعضې یې د هغې نه دادي:

۱- په پټه، ښکاره، او په هر حال کي د الله تعالی نه ویره کول.

۲- په اخلاص سره د الله تعالی عبادت کول او د هغې په ښه والي او پوره والي کي کوشش کول.

۳- د نیکو بنده ګانو سره د الله تعالی خاص کومك.

٤- جنت ته تلل او د الله تعالی لیدل.

## باب دی په بیان د توحید او د هغې په فضائلو کې

**سوال۳۰: د توحید څو قسمونه دي؟**

**جواب:** د توحید دري قسمونه دي:

١- توحید د ربوبیت.

٢- توحید د الوهیت.

٣- توحید د اسماء او صفاتو.

---

**سوال۳۱: د توحید ربوبیت څه معنی ده؟**

**جواب: د** توحید ربوبیت معنی دا ده چې: الله سبحانه وتعالی په ټولو کارونو کي لکه پیدا کول، رزق، بادشاهي، تدبیر، ژوند، مرګ وغیره کي یو ګڼل.

---

**سوال۳۲: آیا په اسلام کي د داخیلدو لپاره صرف د توحید ربوبیت اقرار کول پوره دي؟**

**جواب:** نه، په اسلام کي د داخیلدو لپاره د توحید ربوبیت اقرار کول پوره نه دي، ځکه چي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کي مشرکانو هم د الله تعالی په ربوبیت اقرار کولو، خو هغوی ته دغي اقرار هیڅ فائده ونه کړه، او په دي خبره دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ

لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾ [الزخرف:۸۷]. ترجمه: (که ته تپوس وکړې له دوی نه (ای پیغمبره) چي چا پیدا کړي دي دوی، نو دوی به خامخا ووایې چي الله (پیداکړیدي)، نو کوم طرف ته واړولی شو دوی؟).

---

**سوال۳۳: د توحید الوهیت څه معنی ده؟**

**جواب:** د توحید الوهیت معنی: د بندګانو کارونه یواځي الله تعالی ته ګرځول.

او یا دا چي: یواځي د یو الله تعالی عبادت کول، او همدا معنی د **لا إله إلا الله** ده.

---

**سوال۳٤: د توحید الوهیت څه اهمیت دی؟**

**جواب:** د توحید الوهیت بعضي اهمیتونه دادي:

۱- د انسانانو او پیریانو پیدائش د توحید لپاره شوی دی.

۲- د انبیاء او رسولانو د دعوت مقصد هم دا توحید وو.

۳- توحید د الله تعالی حق دی په بنده ګانو باندې.

٤- توحید د اعمالو د صحیح والي لپاره بنیاد دی.

---

**سوال۳۵: توحید د اسماء او صفاتو څه معنی ده؟**

**جواب:** الله تعالی په خپلو نومونو او صفتونو کي یو ګڼل، په

هغه طریقه کومه چي په کتـاب د الله او د هغـه د رسـول پـه سنتو کي راغلي ده، او دا پـه داسـې طریقـه کـوم چـي هغه خپل ځان لپاره ثابت کـړي دي هغـه ثـابتول، او د کومـو نـه چي يې نفي کړيده هغه نفي کول بغير د تحريـف او تعطيـل او بغير د تمثيل او تكييف نه، (یعنی: دا نومونـه او صـفتونه د الله تعالى منل په خپل حـال باندې، بغیر د بدلولو د لفظ او د معنـی نـه او یـا د معنـی نـه ثـابتول او یـا مشـابهت او تمثيـل ورکـول دمخلـوق سـره، او يـا دهغـه كيفيـت (حالـت) كـي خبرې کول). دیته توحید د اسماء او صفاتو وایې.

---

**سوال۳٦: په توحيـد د اسـماء او صـفاتو کـي د اهـل سـنت والجماعت څه طریقه ده؟**

**جـواب:** پـه توحيـد داسـماء او صـفاتو کـي د اهـل سـنت والجماعت طريقه داده چې: الله تعالى د خپل ځان لپاره کوم صفات ثابت کړي دي هغه بغير د مشابهت نه ثابتول، اوکوم شیان چي يي د ځان نه نفي کړي دي د هغې نفـي کـول، او د هغې نه پاک ګڼل بغير د تعطيل نه. او په دې باندې د ليـل د الله تعـالى دا قـول دی: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ [الشورى: ١١]. ترجمه: (نشته په شان د الله تعـالى بانـدې

هيڅ شی، او دغه الله تعالی اوريدونکی او ليدونکی دی). ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ﴾ (نشته په شان د ده هيڅ شی) په دې قول کي رد دی په هغو کسانو چي مشابهت ورکوي د الله تعالی صفاتو او نومونو ته. ﴿وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ (او دغه الله اوريدونکی او ليدونکی دی) او په دې قول کي رد دی په هغو کسانو چي د الله تعالی صفات يا نومونه نفي کوي.

---

**سوال٣٧: د توحيد اسماء او صفاتو څه اهميت دی؟**

**جواب:** د توحيد اسماء او صفاتو بعضي اهميتونه دادي:

١- په الله تعالی باندې د ايمان زياتوالی.

٢- د الله تعالی په نومونو او صفتونو باندې پوهه حاصليدل، او په همدې طريقه د الله تعالی پيژندنه کيږي.

٣- د زړه اعمال او کردار مضبوطيدل، لکه چي د الله تعالی سره مينه، او دهغه نه ويره، او اُميد.

٤- د الله تعالی په نومونو او صفتونو کي د تشبيه، تعطيل او تمثيل نه بچ (لري) پاتي کيدل، کوم چي د جهميه، معتزله، او اشاعره وو مسلك دی.

---

**سوال٣٨: د توحيد څه فضائل دي؟**

**جواب:** د توحيد فضائل خو ډېر دي، چي بعضي د هغې نه دادي:

١- د ګناهونو او خطاګانو معاف کيدل.

٢- په دنيا او آخرت کي پوره امن او حفاظت.

٣- په دنيا کي ښائسته ژوند او په آخرت کي ډېر اجر او ثواب.

٤- جنت ته داخليدل.

٥- د اُور نه خلاصون (ژغورنه).

## باب دی په بیان د مرتدوالي کې

### سوال۳۹: مرتدوالی څه ته ویل کیږي؟

**جواب:** د اسلام نه وروسته کفر کولو ته مرتدوالی ویل کیږي. او په دې خبره دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَن يَرۡتَدِدۡ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتۡ وَهُوَ كَافِرٞ فَأُوْلَـٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَـٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَـٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَـٰلِدُونَ﴾ [البقرة:٢١٧]. ترجمه: (او هغه څوک چې مرتد شو (واوختلو) په تاسو کې د خپل دين نه، او د کفر په حالت کې مړشو، نو د دغه خلکو عملونه برباد شول په دنيا او آخرت کې، او دغه خلک جهنميان (دوزخيان) دي، او دوی به په دغه اُور کې هميشه وي).

---

### سوال٤٠: د مرتدوالي څو قسمونه دي؟

**جواب:** د مرتدوالي پنځه قسمونه دي.

١- په قول (وينا) سره مرتد کيدل.

٢- په فعل (کردار) سره مرتد کيدل.

٣- په عقيده سره مرتد کيدل.

٤- په شک سره مرتد کيدل.

۵- په پريښودلو ديو عمل سره مرتد کيدل.

---

**سوال٤١: په قول (وينا) سره د مرتد کيدلو څه مثالونه** دي؟

**جواب:** په قول (وينا) سره د مرتد کيدلو بعضي مثالونه دا دي:

۱- الله تعالى او يا د هغه رسول -صلى الله عليه وسلم- ته کنځلي کول.

۲- د علم غيب دعوى کول.

۳- د نبوت دعوى کول.

٤- د الله تعالى نه بغير دبل چانه مدد غوښتل، چي د هغه نه سيوا په هغې باندې بل څوك قادر نه وي.

---

**سوال٤٢: د فعل(کردار) سره د مرتد والى څه مثالونه دي؟**

**جواب:** په فعل (کردار) سره د مرتد والي بعضي مثالونه دا دي.

۱- بت، ګټي، او يا قبر ته سجده کول.

۲- د دغه بره ذکر شوي شيانو په نوم ذبحه(حلاله) کول.

۳- په نجس ځاي کي د قرآن کريم غورځول.

٤- سحر او جادو کول، يا يې زده کول او يا يې بل چاته ښودل.

**سوال٤٣: په عقيده كي د مرتد والى څه مثالونه دي؟**

**جواب:** په عقيده كي د مرتد والي بعضي مثالونه دادي:

١- الله تعالى سره د شريك عقيده لرل.

٢- د مرګ نه پس په ژوندون، او د جنت او دوزخ نه انكار كول.

٣- هغه شيان چي الله تعالى حرام كړي دي هغه حلال ګڼل، لكه زنا، شراب، او د الله تعالى د كتاب نه بغير په بل څه باندې فيصله كول.

٤- انكار كول د دين د اركانو او فرائضو نه، لكه مونځ، روژه، زكات، او حج.

---

**سوال٤٤: په شك سره د مرتد والي كوم مثالونه دي؟**

**جواب:** په شك سره د مرتد والي بعضي مثالونه دادي:

١- د مرګ نه پس په ژوندون، او په جنت او جهنم كي شك كول.

٢- په دين اسلام كي شك كول، او همدغه رنګي په دې كي شك كول چي اسلام د اوسنى زماني لپاره مناسب دين دى.

٣- د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په پيغمبرى او

ريښتونوالي کي شک کول.

٤- په دي کي شک کول چې قرآن کريم د الله تعالى کلام دی.

---

**سوال٤٥: په پريښودلو سره د مرتد والي څه مثالونه دي؟**

**جواب:** قصدا د مونځ په پريښودلو سره بنده کافر کيږي؛ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ددې قول د وجې نه «**إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ**»[1]. ترجمه: (بيشکه په مينځ د سړي او په مينځ د شرک او کفر کي د مانځه پريښودل دي).

---

(١) رواه: مسلم (٨٢).

## باب دی په بیان د شرك کې

### سوال٤٦: د شرك څو قسمونه دی؟

**جواب:** د شرک دوه قسمونه دي:

١- شرك اكبر. (لوی شرك).

٢- شرك اصغر. (ورکوټی شرك).

### سوال٤٧: شرك اكبر څه ته وايي؟

**جواب:** د الله تعالی نه بغير د بل چا عبادت کولو ته شرك اكبر ويل كيږي.

### سوال٤٨: د شرك اكبر مثالونه ذکر کړه؟

**جواب:** د شرك اكبر بعضي مثالونه:

د الله تعالی نه بغير دبل چانه څه غوختل، يا بغير دالله تعالی نه لكه قبرونو، پيريانو، او شيطانانو لپاره ذبحه (حلاله) يا نذر (منخته) کولو سره تقرب (نزديکت) حاصلول، يا د الله تعالی نه بغير دبل چانه داسې اُميد ساتل چي هغه شی د الله تعالی نه بغير د بل چا په قدرت او اختيار کي نه وي، لكه د حاجتونو پوره كول، د مصيبتونو لري كول.

**سوال٤٩: د شرك اكبر څه اثرات او نقصانات دي؟**

**جواب:** شرك اكبر لويه ګناه ده، او نقصانات يې ډېر دي چې بعضي يې دادي:

١- شرك اكبر بنده د اسلام نه وباسي.

٢- شرك اكبر ټول عملونه برباده وي.

٣- شرك اكبر د جنت د داخيلدو مانع ګرځي، او مشرك چې كله د شرك په حالت كې مړ شي نو هميشه به جهنم كې وي.

---

**سوال٥٠: په شرك اكبر كې د واقع كيدو څه اسباب دي؟**

**جواب:** په شرك اكبر كې د واقع كيدو ډېر اسباب دي، چې بعضي يې دادي:

١- د نيكانو خلكو په مينه كې د حد نه زياتى (غُلو) كول.

٢- د توحيد او د «**لا إلهَ إلا الله**» په معنى بي علمي.

٣- د خواهشاتو تابعداري كول.

٤- ړوند تقليد كول.

---

## سوال٥١: شرك أصغر څه ته وايي؟

**جواب:** شرک اصغر: هر هغه شی چې شریعت منع کړی وي، او هغه شرك اكبر ته سبب او په هغي کي د واقع کيدلو وسيله جوړيږي، او په شرعي نصوصو (قرآن او حديث) کي هغې ته شرك ويلى شوي وي.

## سوال٥٢: د شرك اصغر قمسمونه ذکر کړه.

**جواب:** شرک اصغر په دوه قسمه دی:

**اول قسم:** ښكاره شرك، او دا بيا په دوه قسمه دی.

١- شرك په قول (وينا) کې: لکه د الله تعالى نه بغير په بل شي قسم خوړل، او يا داسې ويل: لکه يو سړی ووايې: که الله وغواړي او ته وغواړي.

٢- شرك په افعالو (کارونو)کې: لکه د مصيبت لري کولو او يا د هغي د مخنوي لپاره د ګُتمی او يا د تارونو اچول، او شركي الفاظو والا تعويذونه کول، لکه د بد نظر نه د ځان د ساتلو په خاطر.

**دويم قسم:** پَټ شرك، چې هغه په عبادت کي ريا (خلكو ته ځان ښودل) وي.

**سوال٥٣: د شرك اصغر او شرك اكبر په مينځ كي څه فرق دی؟**

**جواب:** د شرك اصغر او شرك اكبر په مينځ كي لاندېني فرقونه دي.

١- شرك اكبر انسان د اسلام نه وباسي، او شرك اصغر انسان د اسلام نه نه وباسي بلكي په توحيد كي يي كموالى راولي.

٢- شرك اكبر د انسان ټول عملونه بربادوي، او شرك اصغر د انسان ټول عملونه نه بربادوي، بلكي ريا صرف هغه عمل بربادوي په كوم عمل كي چي ريا وشي.

٣- شرك اكبر خپل خاوند جهنم ته هميشه لپاره داخلوي، او شرك اصغر خپل خاوند په جهنم كي هميشه لپاره نه پاتي كوي كه چيري ورداخل شي.

# باب دی په بیان د نفاق کي

**سوال٥٤: د نفاق څو قسمونه دي؟**

**جواب:** د نفاق دوه قسمونه دي:

١- اعتقادي نفاق، چي هغې ته لوی نفاق (نفاق اکبر) ویلی شي.

٢- عملي نفاق، چي هغې ته وړوکی نفاق (نفاق اصغر) ویلی شي.

---

**سوال٥٥: اعتقادي نفاق څه ته وايي؟**

**جواب:** اعتقادي نفاق: په ښکاره باندې ځان مسلمان ښودل او په پټه کي کفر کول.

---

**سوال٥٦: د اعتقادي نفاق څو قسمونه دي؟**

**جواب:** د اعتقادي نفاق شپږ قسمونه دي:

١- رسول الله صلی الله علیه وسلم د روغجن ګڼل.

٢- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځیني خبرو دروغ ګڼل.

٣- رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بغض (بدبیني) کول.

٤- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو خبرو یا سنتو سره بغض (بدبیني کول).

٥- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین په کمزور

کيدلو باندې خوشحاله کيدل.

٦- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دين په کاميابی او د هغه په مدد کولو باندې خفه کيدل.

---

**سوال٥٧: عملي نفاق څه ته وايي؟**

**جواب:** عملي نفاق د منافقينو د عملونو نه ځيني عملونه کول، لکه دروغ، خيانت، د جَمعي په مونځ کي سستي کول، او دا پداسي حال کي چې په زړه کي يې ايمان وي.

---

**سوال٥٨: د اعتقادي نفاق او عملي نفاق په مينځ کي څه فرق دی؟**

**جواب:** د اعتقادي نفاق او عملي نفاق په مينځ کي لاندیني فرقونه دي:

١- اعتقادي نفاق انسان د اسلام نه وباسي، او عملي نفاق انسان د اسلام نه نه وباسي.

٢- اعتقادي نفاق په عقيده کي د باطن او ظاهر اختلاف ته وايي، (چي په ښکاره يو عقيده لري، او په پټه بله عقيده لري).

او عملي نفاق: په عمل کي د ظاهر او باطن اختلاف ته وايي.

٣- اعتقادي نفاق: د مؤمن نه نه صادريږي، او عملي نفاق کله کله د مؤمن نه هم صادريږي.

## باب دی په بیان د مشروع عبادت، او ممنوع بدعتونو کې

### سوال٥٩: مونږ الله تعالی څه لپاره پیدا کړي یو او په دې څه دلیل دی؟

**جواب:** مونږ الله تعالی یواځې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي یو چې شریک نلري. او په دې خبره دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: (ما نه دي پیدا کړي انسانان او پېریان مګر د خپل عبادت لپاره).

---

### سوال٦٠: د عبادت څه معنی ده؟

**جواب:** عبادت: یو جامع او شامل نوم دی د هر هغه عمل لپاره چې الله تعالی یې خوښوي، او هغه پرې راضي کیږي، که هغه قول وي او که عمل، که ښکاره وي او که پټ.

---

### سوال٦١: د عمل د قبلیدو لپاره کوم شرطونه دي؟

**جواب:** عبادت په دوو شرطونو سره قبلیږي:

١- د الله تعالی لپاره اخلاص لرل.

٢- د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کول.

---

**سوال٦٢: د الله تعالی لپاره د اخلاص څه معنی ده؟**

**جواب:** د اخلاص معنی: خپل عبادت پاك ساتل د ټولو شبهاتو دشرك او ريا نه.

---

**سوال٦٣: د الله تعالی لپاره د اخلاص په واجب والي باندې څه دليل دی؟**

**جواب:** د اخلاص په واجب والي باندې دليل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: (او دوی ته حکم نه دی شوی مګر لپاره ددې چې په ډير اخلاص سره د الله تعالی عبادت وکړي، او دين يوازې د الله تعالی لپاره وګرځوي).

---

**سوال٦٤: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تابعدارۍ څه معنی ده؟**

**جواب:** د رسول الله صلی الله عليه وسلم تابعداري ديته وايې: چې د الله تعالی په عبادت کې د هغه تابعداري وشي، په داسې شان سره چې دهغه عبادت د سنتو مطابق وي او د بدعتونو نه خالي وي.

---

**سوال٦٥: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تابعدارۍ په واجب والي څه دليل دی؟**

**جواب:** د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تابعدارۍ په واجب والي دليل د الله تعالى دا قول دی: ﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [آل عمران: ٣١]. ترجمه: (ووايه (ای محمده! دوی ته) که چېري تاسو محبت کوئ د الله تعالی سره نو تابعداري وکړئ زما، چي محبت به وکړي الله تعالی تاسو سره، او ببښنه به وکړي تاسو ته ستاسو د ګناهونو، او الله تعالی ببښونکی او مهربانه (رحم والا) دی).

**سوال٦٦: په دين کي د بدعت څه معنی ده؟**

**جواب:** په غير جائز طريقه باندې عبادت کولو ته بدعت وايي.

او يا: هر هغه عبادت چي خلکو له ځان نه جوړ کړی وي، او د هغې لپاره نه په قرآن او سنت کي، او نه د خلفاء راشدينو په عمل کي څه اصل او دليل وي.

**سوال٦٧: په دين کي د بدعت څه حکم دی؟**

**جواب:** هر بدعت په دين کي حرام دی او ګمراهي ده.

او په دې باندې دليل دا قول دنبي عليه السلام دى: «**مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ**»[1] ترجمه: (چا چې څومره په دين کې نوى کار پيدا کړو کوم چې ددې دين نه نه وي، نو هغه نه قبليدونکى غير مقبول عمل دى).

او د نبي عليه السلام يو بل قول دى فرمائي: «**وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلالَةٍ**»[2]. ترجمه: (هر بدعت (نوى كار) ګمراهي ده).

---

## سوال٦٨: په دين کې د بدعت څو قِسمونه دي؟

**جواب:** په دين کې د بدعت دوه قِسمونه دي:

**اول قسم:** قولي اعتقادي بدعت لکه د جهميّه وو، معتزله وو، خوارجو، او روافضو او ټولو ګمراه فرقو اقوال او عقيدې.

**دويم قسم:** په عبادت کې بدعت، لکه د الله تعالى عبادت کول بغير د مشروع طريقې نه، او ددې بيا قِسمونه دي:

**اول قسم:** هغه چې اصل دعبادت يې ټول بدعت وي، لکه د قبرونو نه طوافونه کول او د پيدائش ورځ لمانځل.

**دويم قسم:** هغه چې په يو مشروع عبادت کې يې يو

---

(١) رواه: البخاري (٢٦٩٧)، ومسلم: (١٧١٨).

(٢) رواه: مسلم (٨٦٧).

صفت دبدعت وي، لکه اجتماعي طريقه باندې ذکر کول.

**دريم قسم:** د مشروع عبادت لپاره وخت خاص کول چي شريعت ورله وخت نه وي خاص کړی، لکه د شعبان پنځلسم د روژي لپاره اويا يې شپه د قيام لپاره خاص کول.

---

**سوال٦٩: په دين کي د بدعت مثالونه ذکر کړه.**

**جواب:** په دين کي د بدعت مثالونه زيات دي، خو يو څو مشهور يې دا دي:

١- د نبي صلى الله عليه وسلم د پيدائش په ورځ محفلونه جوړول.

٢- د معراج په شپه محفلونه جوړول.

٣- په قبرونو گُنبد او ابادي او جوماتونه جوړول.

---

**سوال٧٠: په بدعت کي د واقع کيدو کوم اسباب دي؟**

**جواب:** په بدعت کي د واقع کيدو ډير اسباب دي چي بعضي يې د هغې نه دا دي:

١- د دين په احکامو ناپوهي.

٢- د خواهشاتو تابعداري کول.

٣- ړوند تقليد کول.

٤- د کفارو سره مشابهت کول.

## باب دی په بیان د اودس او غُسل کي

**سوال۷۱: د اودس څه معنی ده؟**

**جواب:** اودس د مخصوصو اندامونو وينځل او مسح کولو ته وايي.

---

**سوال۷۲: د اودس لپاره څو شرطونه دي؟**

**جواب:** د اودس لپاره لس شرطونه دي:

١- اسلام. ٢- عقل.

٣- ځيرکتوب (د ماشوم اووه کلنی ته رسيدل).

٤- نيت. ٥- د اودس نيت به يې د اول نه تر اخره پوري باقي وي.

٦- د اودس د ماتيدو اسباب لري کول.

٧- د اودس نه مخکي د ورکوتي اودس ماتي يا لوی اودس ماتي نه پس استنجاء او صفائي کول په اوبو يا په کاڼو لوټو وغيره سره.

٨- اوبه به پاکي او روا وي.

٩- هغه شی د بدن نه لري کول، کوم چي بدن ته د اوبو په رسيدلو کي مانع ګرځي.

١٠- دائمي معذور(چي بي اودسي يې دائمي وي) دهغې د اودس لپاره دمونځ دوخت داخليدل.

---

## سوال٧٣: د اودس څو فرضونه دي؟

**جواب:** د اودس شپږ فرضونه دي:

١- د مخ وينځل، سره د خولي او پوزي.

٢- د دواړو لاسونو وينځل سره د څنګلو.

٣- د ټول سر مسح کول سره د غوږونو.

٤- دواړه پښي سره د ګيټو (ښنګرو) وينځل.

٥- ترتيب. ٦- د اندامونو پرله پسي وينځل.

---

## سوال٧٤: د اودس ماتونکي شيان څو دي؟

**جواب:** د اودس ماتونکي شيان څلور دي:

١- يو د دواړو لارو نه د يو شي خارجيدل، لکه واړه بولي، لوی بولي، مذي، او هوا (باد وتل).

٢- د عقل ختميدل په ليونتوب سره يا په بي هوشۍ سره يا په خوب سره.

٣- د اوښ غوښه خوړل.

٤- خپل عورت (غليظه) ته لاس وروړل بيله پردينه.

---

**سوال٧٥: د اودس ماتيدو نه پس بيا د اودس په واجب والي باندې څه دليل دی؟**

**جواب:** د اودس په واجب والي باندې دليل د الله تعالی دا قول دی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ﴾ [المائدة: ٦]. ترجمه: (ای هغه خلکو چې ايمان مو راوړی دی، کله چې اراده وکړئ د مانځه نو ووينځئ خپل مخونه، او خپل لاسونه تر څنګلو پورې، او مسح کړئ خپل سرونه، او وينځئ خپلې پښې تر ګيټو(ښنګرو) پورې).

---

**سوال٧٦: غُسل څه ته وايي؟**

**جواب:** په خاصه طريقه باندې د ټول بدن وينځلو ته غُسل وايي.

---

**سوال٧٧: غُسل په کومو شيانو واجبيږي؟**

**جواب:** غُسل په درې شيانو واجبيږي:

١- په خوند او ټوپ سره د مني وتل.

٢- جماع کول، اګر که انزال ونه شي.

٣- د حيض او نفاس نه پاکيدل.

---

**سوال٧٨: د جنابت نه پس دغُسل په واجب کيدو څه دليـل دی؟**

**جواب:** د غُسل په واجب کيدلو باندې دليـل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ﴾ [المائدة: ٦]. ترجمه: (او کـه تاسي د جنابت په حال کي يئ) نو ځانونه ښه پاک کړئ).

**سوال٧٩: اودس او غُسل څه خوبياني لري؟**

**جواب:** اودس او غُسل خو ډېري خوبياني لري، خـو بعضـي اهمي يې دادي:

١- اسلام لوی دين دی، او انسانانو ته د حسّـي او معنـوي نظافت دعوت ورکوي.

٢- د اودس د اندامونو نه چي کوم ګناهونه شوي وي پـه اودس کولو سره هغه معاف کيږي.

٣- اودس سره د بدن صحت، سلامتيا او بدن کي چسـتي (بيداری) پيداکيږي.

٤- د الله تعالی سـره د رازداری لپـاره پـه ښـه حـال کـي تياری نيول.

## باب دی په بیان د مونځ كي

**سوال ۸۰: د مونځ څه معنی ده؟**

**جواب:** مونځ داسې عبادت دی چې شامل دی پـه اقوالـو او افعالو سره چې اول یې تکبیر دی او آخر یې سلام دی.

---

**سوال ۸۱: هغـه کـوم مونځونـه دي چـې فـرض دي پـه هـر مسلمان نارینه او مسلمانه زنانه باندې؟**

**جواب:** په هر مسلمان نر او ښځه باندې په شپه او ورځ کـې پنځه مونځونه فرض دي.

۱- د سهار دوه رکعاته.

۲- د ماسپښین څلور رکعاته.

۳- د مازدیګر څلور رکعاته.

٤- د ماښام درې رکعاته.

٥- د ماسخوتن څلور رکعاته.

---

**سوال ۸۲: د پنځو مونځونو په فرضیت باندې څه دلیل دی؟**

**جواب:** د پنځوو مونځونو په فرضیت باندې دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿حَـٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْـطَىٰ وَقُومُـواْ لِلَّهِ قَـٰنِتِـينَ﴾ [البقرة: ۲۳۸]. ترجمـه: (سـاتنه کـوئ تاسـو پـر ټولـو

مونځونو (خاصكر) په مونځ مينځني باندې (چي د مازديګر مونځ دی) او ودرېږئ تاسو د الله تعالى په وړاندې په خشوع سره (په ادب سره)).

---

**سوال۸۳: د مونځ پريښودل څه حكم لري او څه دليل يې دی؟**

**جواب:** د مونځ پريښودل كفر دی، او د اسلام نه بنده وباسي.

او په دې باندې دليل د نبي صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

(إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ)[1].

ترجمه: (بيشكه د مسلمان او شرك او كفر ترمينځ فرق (توپير) د مونځ پريښودل دي).

**سوال۸٤: د مانځه څو شرطونه دي؟**

**جواب:** د مانځه نهه شرطونه دي:

١- اسلام. ٢- عقل. ٣- ځيركتوب.

٤- د بي اودسئ لري كول. ٥- دنجاست لري كول.

٦- د عورت پټول. ٧- د وخت داخليدل.

٨- قبلى ته مخ كول. ٩- نيت كول.

---

(١) رواه: مسلم (٨٢).

**سوال۸۵: د مانځه څو ارکان دي؟**

**جواب:** د مانځه څوارلس ارکان دي:

١- قیام (ولاړه) د قدرت لرلو (توانیدو) سره.

٢- تکبیر اُولی (اولنی تکبیر).

٣- سورت فاتحه لوستل.

٤- رکوع.

٥- د رکوع نه پس لېږ ودریدل.

٦- په اوه اندامونو سجده کول.

٧- د سجدي نه پورته کیدل.

٨- د دوه سجدو په مینځ کي لږ کیناستل.

٩- ټول ارکان په اطمنان سره ادا کول.

١٠- ترتیب.

١١- اخیري تشهد (التحیات).

١٢- اخیري ناسته (قعده).

١٣- په نبي علیه السلام باندي درود ویل.

١٤- دواړه طرف ته سلام ګرځول.

### سوال۸٦: سورت فاتحه کوم سورت دی؟

**جواب:** سورة فاتحه د قرآن کریم لوی سورت دی، او د دینه بغیر مونځ نه صحیح کیږي، سورت فاتحه داده:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾ [الفاتحة: ۱- ۷].

---

### سوال۸۷: د مونځ وا جبات څو دي؟

**جواب:** د مونځ واجبات اته دي:

۱- د تکبیر تحریمه نه علاوه ټول تکبیرونه.

۲- په رکوع کي «**سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيْم**» ويل.

۳- د امام او منفرد (يوائي مونځ کونکی) دواړو لپاره «**سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه**» ويل.

٤- د امام، مقتدي، او منفرد ټولو لپاره «**رَبَّنا لَكَ الحَمْدُ**» ويل.

۵- په سجده کي «**سُبْحَانَ رَبِّيَ الأعْلى**» ويل.

٦- د دواړو سجدو په مينځ کي «**رَبِّ اغْفِرْلِيْ**» ويل.

۷- اولنی تشهد (التحيات).

۸- داولني تشهد لپاره ناسته (قعده).

---

**سوال۸۸: اولنی تشهد کوم يو دی؟**

**جـواب:** اولنـی تشـهد دادی چـي مـونږ ګـزار دا ووايـې:
«التَّحِيَّاتُ لله، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

---

**سوال۸۹: اولنی تشهد کله ويل کيږي؟**

**جواب:** کله چي مـونږ کـونکی د دويـم رکعـت د دويمـي سجدي نه را پورته شي او کيني نـو دغـه وخـت کـي ويـل کيږي، او دا د ماسپښين، مازديګر، ماښام، او ماسخوتن مونځ کي وي.

---

**سوال۹۰: آخرنی تشهد کوم يو دی؟**

**جواب:** اخرنی تشهد دا دی چـي مـونږ کـونکی دا ووايـي:
«التَّحِيَّاتُ لله، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

---

**سوال۹۱: آخرنی تشهد کله کيږي؟**

**جواب:** آخرنی تشهد چي کله مونځ کونکی په آخرني رکعت کي د دويمي سجدي نه پس کيني.

---

**سوال۹۲: د مانځه سنتونه کوم دي؟**

**جواب:** د مانځه سنتونه ډېر دي چي بعضي يې دا دي:

١- «**سُبْحانَكَ اللهُمَّ وبِحمْدِك**...» ويل، او يا بله کومه سنت دعا.

٢- د قيام (ولاړی) په وخت کي ښی لاس په چپ لاس کيښودل.

٣- د تکبير تحريمه (اولنی تکبير) په وخت کي دواړه لاسونه تر اوږو يا غوږونو پوري وچتول، او هم د رکوع نه مخکي او وروسته او د دويم رکعت نه د راپورته کيدلو په وخت لاسونه وچتول.

٤- په رکوع کي د يو نه زيات تسبيحات ويل.

٥- د دواړو سجدو په مينځ کي د يوې نه زياتي د مغفرت (ښښني) دعاګاني غوښتل.

٦- په رکوع کي سر د ملا سره برابرول.

٧- په سجده کي خپلي څنګلي د اړخونو نه، او خيټه د

ورَنونو نه جدا ساتل.

٨- د سجدي په وخت کي دواړه څنګلی د ځمکي نه جدا ساتل.

٩- په اولني تشهد، او د دواړو سجدو په مينځ کې، او د دوه رکعاتيز مونځ په آخرني تشهد کي په چپه پښه کيناستل او د ښي پښي ودرول، او ديته (افتراش) وايي.

١٠- د دري رکعاتيز او څلور رکعاتيز مونځ په آخرني تشهد کي توَرُّك کول، او طريقه يې داده چي کُناټی به په ځمکه ولګوي او چپه پښه به د ښي پښي لاندې راولي او ښي پښه به ودروي.

١١- په آخرني تشهد کي دعا ويل.

١٢- د سهار، جُمعي، اخترونو، او د استسقاء په مونځونو کې، او د ماښام او ماسخوتن په اولني رکعتونو کي په جهر سره قراءت ويل.

١٣- د ماسپښين، مازديګر، او د ماښام په دريم، او د ماسخوتن په آخرني دوه رکعتونو کي په پټه قراءت ويل.

١٤- د سورت فاتحي نه زيات قراءت ويل.

## سوال۹۳: د مونځ د ارکانو، واجباتو، او سنتو په مينځ کي څه فرق دی؟

**جواب:** رکن که په قصد سره او يا په هيری سره پريښودل شي نو مونځ باطليږي، او واجب په قصد سره په پريښودلو مونځ باطليږي، او که په هيري سره پاتي شي نو جبيره يې د سهوي په سجده سره کيږي، او د سنت په پريښودو سره څه شي نه لازميږي.

---

## سوال٩٤: په کومو شيانو مونځ باطليږي؟

**جواب:** مونځ په اتو شيانو سره باطليږي:

١- سره د پوهي نه قصدًا په مونځ کي خبرې کول، او هر چي په ناپوهی يا هيري سره خبرې وشي نو مونځ پري نه باطليږي.

٢- خندا. ٣- خوراک. ٤- څښاک.

٥- د عورت ښکاره کيدل.

٦- دقبلی نه ډېر کږيدل.

٧- مسلسل يو حرکت په مونځ کي بيا بيا کول.

٨- د اودس ماتيدل.

---

## سوال٩٥: د مونځ خوبیاني څه دي؟

**جواب:** د مونځ خوبیاني خو ډېري دي خو مهمي يې دادي.

١- مونځ سره د زړه اطمنان حاصليږي، سينه ورسره پراخيږي، او د الله تعالی سره راز او نياز کول دي.

٢- مونځ سره خطاګاني او ګناهونه معاف کيږي.

٣- مونځ مسلمان ده بي حيايي او ناروا کارونو نه منع کوي.

٤- مونځ مسلمان د شرونو او مصيبتونو نه ساتي، او د الله تعالی په ذمه او حفاظت کي يې داخلوي.

## باب دی په بیان د زکات کي

### سوال٩٦: د زکات څه معنی ده؟

**جواب:** زکات په خاص مال کي یو فرضي حق دی د یو خاص قسم خلکو لپاره په یو خاص وخت کې.

---

### سوال٩٧: د زکات په فرضوالي څه دلیل دی؟

**جواب:** د زکات په فرضوالي باندې دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ [البقرة: ٤٣]. ترجمه: (قائم کړئ مونځ او ورکړئ زکات).

---

### سوال٩٨: په کومو مالونو کي زکات ورکول فرض دي؟

**جواب:** هغه مالونه چي په هغې کي زکات ورکول فرض دي پنځه قسمه دي:

١- چارپایان: اوښان، غویان، میښي، ګډي، بیزي.

٢- د ځمکي حاصل: غَله دانه او میوي دي فقط.

٣- نقدي: سره زر، او سپین زر دي، او هغه چي نن سبا د هغې په ځاي استعماليږي، لکه کاغذي نوټونه.

٤- د تجارت سامان.

٥-کانونه، او معدنونه.

## سوال۹۹: د زكات د فرضوالي لپاره څه شرطونه دي؟

**جواب:** د زكات د فرضوالي لپاره څلور شرطونه دي:

۱- اسلام.

۲- ازادي.

۳- د نصاب مالك كيدل په پوره ملكيت او استقرار سره.

٤- په مال باندې پوره كال تيريدل(۱).

---

## سوال۱۰۰: زكات چا ته وركول كيږي؟

**جواب:** زكات خپل مستحقينو ته وركول كيږي هغه اته قسمه دي:

كوم چې الله تعالى په دې قول كې ذكر كړي دي:

﴿إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ

---

(۱) او دا شرطونه خاص دي په حيواناتو او سرو او سپينو زرو او نقد روپو او د تجارت سامانه پورې، او هر چې د ځمكې نه راوزې لكه غله، داني او ميوې نو په هغې باندې زكات واجب دی په وخت د حاصلولو كې، او هر چې كانونه او معدنونه دې نو په هغې كې زكات د هغې په مطلق پيداكيدلو كې واجب دی، او هر چې د حيواناتو بچې او د تجارت ګټه ده نو د هغوی كال تيريدل د هغوی د اصل سره حسابيږي.

مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ [التوبة: ٦٠]. ترجمه: (بیشکه زکاتونه ورکولی شي فقیرانو ته، مسکینانو ته، او په زکات بانديې مقرر شوي (گمارل شوي) کارکونکوته، او هغو کسانو ته چي اسلام ته يي زړونه نرم او تشويق شي. او په ازادولو د سټونو (غلامانو) کي او قرضدارو ته، او د الله تعالی د دين په لاره کې، او مسافرو ته، فرض کړی شويدي د طرفه د الله تعالی نه، او الله تعالی پوهه او د حکمت خاوند دی).

---

**سوال۱۰۱: د زکات په ورکولو کي څه خوبياني دي؟**

**جواب:** د زکات په ورکولو کي خو خوبياني ډيري دي چي بعضي د هغې نه دادي:

۱- د شتمنو کسانو او د مسکینانو ترمينځ د مرستي کولو او محبت کولو اسباب برابرول.

۲- د نفس پاکوالی، او د کنجوسی نه لري والی.

۳- په رزق او مال کي برکت او زیاتوالی راتلل.

---

## باب دی په بیان د روژي کي

**سوال١٠٢: د روژي څه معنی ده؟**

**جواب:** ځان د خوراك، څښاك، او د ټولو روژه ماتونکو شیانو نه منع کول په نیت د روژي سره، د صبح صادق (سبا) نه تر لمر پریوتو پوري.

**سوال١٠٣: د روژي په فرضیت باندې څه دلیل دی؟**

**جواب:** د روژي په فرضیت باندې دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة: ١٨٣]. ترجمه: (اي هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی! فرض کړی شوي ده په تاسو باندې روژه، لکه چي فرض کړی شوي وه په هغه خلکو باندې کوم چي پخوا له ستاسو څخه وو، ددې لپاره چي پرهیزګار شئ.

**سوال١٠٤: د رژي د فرضیت لپاره کوم شرطونه دي؟**

**جواب:** د روژي د فرضیت لپاره شپږ شرطونه دي:

١- اسلام. ٢- بالغ کیدل. ٣- عقل ٤- صحتمندي.

٥- مقیموالی. ٦- د حیض او نفاس نه پاکوالی.

**سوال١٠٥: هغه كوم عذرونه دي چي په هغې سره روژه ماتول د ورځې روا كيږي د رمضان په مياشت كې؟**

**جواب:** هغه عذرونه چي په هغې سره روژه ماتول روا كيږي د رمضان په مياشت كي څلور دي:

١- مريضتيا او يا ډېر بوډاوالى چي دهغې سره روژه نيول ډېر ګران وي.

٢- سفر. ٣- د زنانوو مريضتيا (حيض، نفاس).

٤- د زنانه وو لپاره په موده د حمل كي (چي ماشوم يې په خيټه وي) او يا موده د رضاعت (ماشوم ته تى (سينه) وركول).

**سوال١٠٦: روژه په كومو شيانو سره ماتيږي؟**

**جواب:** روژه په اوه شيانو سره ماتيږي:

١- كوروالى كول. ٢- د مني وتل.

٣- خوراك او څښاك.

٤- د هغه شيانو استعمال كوم چي د خوراك يا څښاك په معنى كي دي، لكه غذائي ستني (سيرم يا ډراپ) لګول.

٥- د حجامت په طريقه د بدن نه وينه ويستل.

٦- قصدًا قی کول، یعني له معده څخه د طعام خارجول.

٧- د زنانه وو نه د حیض او نفاس وینه وتل.

---

**سوال١٠٧: هغه کوم شرطونه دي چي روژه ماتونکي شیانو کي ومونډل شي نو روژه ورسره ماتیږي؟**

**جواب:** روژه نه ماتیږي، مګر په دري شرطونو سره:

١- د روژي ماتولو په حکم او په وخت علم لرل.

٢- ورته یاد وي چي دی روژه دی.

٣- په خپل اختیار کي وي.

---

**سوال١٠٨: روژه نیول څه خوبیاني لري؟**

**جواب:** د روژي دنیولو خوبیاني خو زیاتي دي چي بعضي د هغي نه دادي.

١- په ښو اخلاقو سره خپل نفس عادت کول، لکه صبر او برداشت کول.

٢- په انسان باندي د الله تعالی د طرف نه د خوراک او څښاک د نعمتونو یادګیرنه.

٣- د فقیرانو او مسکینانو سره د همدردی او احسان کولو یاد ګیرنه.

٤- د بدن حفاظت کول په صحت او سلامتیا سره.

## باب دى په بيان د حج كي

**سوال۱۰۹: حج څه ته وايي؟**

**جواب:** مكي مكرمي ته په خاص وقت كي د خاصو اعمالو اداكولو په نيت تګ ته حج وايي.

---

**سوال۱۱۰: د حج په فرضوالي څه دليل دى؟**

**جواب:** د حج په فرضوالي باندې دليـل د الله تعـالى دا قـول دى: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ﴾ [آل عمران: ٩٧]. ترجمه: (او په خلكو باندې حج كول فرض دي د بيت الله شريف دهغه چا لپاره چي د كولو طاقت يي وي).

---

**سوال۱۱۱: د حج څو شرطونه دي؟**

**جواب:** د حج پنځه شرطونه دي:

١– اسلام. ٢ – عقل.

٣ – بالغ كيدل. ٤ – آزادي.

٥ – وس او طاقت.

---

## سوال۱۱۲: حج په څو قسمه دی؟

**جواب:** حج په درې قسمه دی:

۱- تمتع[۱].     ۲- قران[۲].     ۳- افراد[۳].

---

## سوال۱۱۳: د حج څو ارکان دي؟

**جواب:** د حج څلور ارکان دي:

---

(۱) **تمتع:** چي د عمري نیت وتړي د حج په میاشتو کې، او چي کله مکي ته ورسيږي نو د عمري طواف او دصفا او مروا سعي وکړي، او دهغي نه وروسته د سر ويښته واخلي، او بیا چي کله د ترويي یعني اتمه ورځ د ذي الحجي شي نو بیا نیت وکړي د حج لپاره او د حج ټول کارونه سرته ورسوي.

(۲) **قران:** چي نیت وکړي د حج او عمري دواړو په یو ځل، او دینه وروسته به قارن حاجي هم د افراد والا حاجي پشان ټول کارونه وکړي، مګر قارن حاجي به قرباني د شکريي کوي او د افراد والا حاجي باندې قرباني د شکريي نشته.

(۳) **افراد:** چي یواځي د حج نیت وتړي، او چي کله مکي ته ورسيږي نو طواف قدوم او دصفا او مروا سعي وکړي، او دهغي نه وروسته به د سر ويښته نه اخلي، او هم د احرام په حالت کي به وي تردي چي د اختر په ورځ جمرة العقبة وولي، او که چيري د صفا او مروا سعي آخر ته پاتي کړي نو خير دی.

١- احرام. (نيت كول).

٢- عرفه كي ودريدل.

٣- فرضي طواف كول.

٤-د صفا او مروا په مينځ كي سعي كول.

---

**سوال١١٤: فرائض د حج څو دي؟**

**جواب:** فرائض د حج اوه دي:

١- د ميقات نه احرام تړل.

٢- څوك چي د ورځي راشي نـو د هغه لپـاره د عرفـې ودريدل ترشپې پوري.

٣- په مزدلفه كي شپه تيرول.

٤- په منى كي د تشريق د ورځو(١) شپې تيرول.

٥- په ترتيب سره د جمراتو ويشتل.

٦- د سر ويښتان خريل او يا كمول.

٧- د حائضي او نفاسي ښځي نه بغير د نورو لپاره طـواف وداع كول.

---

(١) د اختر د ورځي نه وروسته دري ورځـو تـه د تشـريق ورځـي ويلـي كيږي.

## سوال١١٥: په حج کي څو سنتونه دي؟

**جواب:** د حج سنتونه خو زيات دي بعضې د هغې نه دا دي:

١- د احرام د تړلو نه مخکي لامبل او خوشبو لګول.

٢- طواف قدوم (حرم ته د اول داخليدلو طواف) کول، په حج قران او حج افراد کې.

٣- د طواف قدوم په اولنو درې چکرو کي په زور سره تلل.

٤- په طواف قدوم کي به د څادر ښى طرف د ښى اوږې متې نه لاندي راتاو کړي).

٥- دوه رکعته مونځ کول د طواف نه وروسته.

٦- د عرفات شپه په منى کي تيرول.

٧- د احرام نه واخلى تر د آخرنۍ جمري ويشتو پوري تلبيه (**لبيك اللهم لبيك....**) ويل.

٨- په عرفات کي د ماسپښين او مازديګر مونځ يو ځاي کول په جمع تقديم سره (يعني دواړه مونځونه د ماسپښين په وخت کي کول) او په مزدلفه کي د ماښام او ماسخوتن مونځ يو ځاي کول په جمع تاخير سره (يعني دواړه مونځونه په ماسخوتن کي کول).

## سوال۱۱٦: د حج د ارکانو، واجباتو او سنتو په مینځ کي څه فرق دی؟

**جواب:** رکن هغه دی چي د هغې نه بغیر حج نه صحیح کیږي، او واجب هغه دی چي د هغې په پرېښودلو دم لازمیږي، او سنت هغه دی چي کول یې ښه کار دی، او که پاتي شي نو څه شی نه لازمیږي.

---

## سوال۱۱۷: په حج او عمره کي د احرام کونکي لپاره کوم شیان منع دي؟

**جواب:** هغه شیان چي په محرم (احرام کونکي) باندې د احرام په حالت کي په حج او عمره کي منع دي هغه په درې قسمه دي:

**اول قسم:** هغه چي د نر او ښځي دواړو لپاره منع وي.

۱- د بدن نه ویښته لرې کول، که هغه په هره طریقه وي.

۲- د نوکانو پرې کول.    ۳- د خوشبو لګول.

٤- د نکاح تړل.

٥- خپلي ښځي ته په شهوت سره نزدې کېدل.

٦- کور والی کول.    ۷- ښکار کول.

**دويم قسم:** هغه چي هغه صرف د نارينه وو لپاره منع دي، او هغه دوه دي.

١- د سر پټول.

٢- ګنډل شوي جامي اغوستل.

**دريم قسم:** هغه چي صرف د زنانه وو لپاره منع دي، او هغه دوه دي:

١- د نقاب يا د بُرقعي اغوستل.

٢- دستکشي (دستانی) لاسونو ته اچول.

---

**سوال١١٨: په حج کولو کي څه خوبياني دي.**

**جواب:** د حج خوبياني خو زياتي دي، خو مهمي خوبياني پکی دا دي:

١- د ټولي دنيا د مسلمانانو راجمع کيدل، د مينـي او محبت حاصليدل، او په خپل مينځ کي سره د يو بل پيژندل.

٢- د مسلمانانو د يو والي ښکاره والی چي دا ټول يـو اُمـت دی، پـه يـو ځـاي يـو وخـت او يـو لبـاس کـي دي، او په مينځ د فقير او غني، عربي او عجمي، تور او سپين کي هيڅ فرق نشته.

٣- د آخرت ياد، چي د الله تعالی په وړاندی به د قيامـت په ورځ همداسي راجمعه کيدل او ودريدل وي.

## باب دى په بيان د عقيدي د اهل سنت والجماعت كي

**سوال١١٩: د مسلمانانو په ډلو (فرقو) كي د اور نه نجات موندونكي ډله كومه يوه ده؟**

**جواب:** د اور نه نجات موندونكي ډله د اهل سنت والجماعت ډله ده.

---

**سوال١٢٠: اهل سنت والجماعت څوك دي؟**

**جواب:** اهل سنت والجماعت هغه خلك دي چي د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د سنتو تابعدار دي، او د هغه په سنتو باندي په ښكاره او په پټه، په قول او عمل (وينا او كردار) او عقيده كي په هغي عمل كوي.

او يا دا چي اهل سنت د نيغي (سمي) لاري خاوندان دي، كومو چي په صحيح اسلام كلكي منګولي لګولي، او د محمد صلى الله عليه وسلم او دسلفو صالحينو په تګلاره روان دي، او ددې وجي نه ورته سلفيان وايي.

---

**سوال١٢١: دوى ته اهل سنت والجماعت ولي وايي؟**

**جواب:** دوى ته اهل سنت ددې وجي نه وايي چي دوى په

سنتو عمل کونکي دي، او اهل جماعت ورته ځکه وايي چي دوی په همدي تګلاره راغونډ شويدي.

---

**سوال١٢٢: دوی ته سلفيان ولي وايي؟**

**جواب:** دوی ته سلفيان ځکه وايي چي دوی د سلفو صالحينو په منهج د کتاب او سنت تابعداري کوي، او نورو ته د هغي دعوت کوي؛ نو دوی په دي کار سره اهل سنت والجماعت دي.

---

**سوال١٢٣: په دي خبره څه دليل دی چي اهل سنت والجماعت نجات موندونکي ډله (فرقه ناجيه) ده؟**

**جواب:** په دي خبره دليل د نبي صلی الله عليه وسلم دا حديث مبارک دی:

**« افْتَرَقَتْ اليَهُوْدُ عَلى إحْدَى وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً، وَافْتَرَقَتْ النّصَارَى عَلى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةٍ، وَسَتَفْتَرِقُ هَذِهِ الأُمَّةُ عَلى ثَلَاث وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةٍ، كلُّها في النّارِ إلّا واحدة»، قِيْلَ: مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلُ اللّه، قَال: «مَا أنا عَلَيْهِ وأصْحابِيْ»، وفي لفظ: «الجَمَاعَةَ»**[1].

---

(١) رواه الترمذي (٢٦٤١)، وأبو داود (٤٥٩٦)، وابن ماجه (٣٩٩٢)، وصححه الألباني في صحيح ابن ماجه (٢/٣٦٤).

ترجمه: (نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي: يهوديان په يو اويا ډلو تقسيم شوي وو، او نصارا په دوه اويا ډلو، او زر دى چي دا امت به په دري اويا ډلو تقسيم شي، ټولي ډلي به په جهنم کي وي مګر يوه ډله نجات مومي، چا وويل دابه څوک وي اې د الله تعالى رسوله! نبي عليه السلام وفرمايل (هغوى هغه کسان دي کوم چي زما او زما د صحابه وو په طريقه روان دي). او په يو حديث کي لفظ د (الجماعة) راغلى دى).

---

**سوال١٢٤: د اهل سنت والجماعت عقيده د الله تعالى د علو او استواء صفت په هکله څه ده؟**

**جواب:** د اهل سنت والجماعت عقيده په اثبات د صفت د علو او استواء کي هغه ده په کومه چي د تمامو رسولانو او تمامو صحابه کرامو اجماع ده، هغه دا چي الله تعالى د ټول مخلوق نه بره دى، او په عرش باندې دى څنګه چي د هغه د شان سره مناسب دي، او د خپل مخلوق سره په هيڅ صفت کي مشابهت نلري.

---

**سوال١٢٥: په اثبات د صفت د علو باندې د قرآن کريم نه څه دليل دی.**

**جواب:** په اثبات د صفت د علو باندې دليل د الله تعالى دا قول دی: ﴿ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ﴾ [الملك:١٦]. ترجمه: (آيا په امن يئ (نه ويرېږئ) دهغې ذات نه چې په آسمان کې دی چې ښخ به کړې تاسې په ځمکه کې نو بيا به هغه (ناڅاپه) ولړزيږي.

او هم دا قول د الله تعالى: ﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى﴾ [الأعلى: ١].

ترجمه: (پاکي ووايه د نوم درب ستا چې بره دی).

او د دينه علاوه هم نور آياتونه.

---

**سوال١٢٦: په اثبات د صفت د علوّ باندې د احاديثو نه څه دليل دی؟**

**جواب:** په اثبات د صفت د علو باندې دليل دا حديث دی چې کله يوې وينځې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم تپوس وکړو: «أين الله؟ فقالتْ: في السماء، ثم قال: مَنْ أنا؟

**فقالتْ: أنتَ رسولُ الله، قال: اعتقْها فإنّها مؤْمِنةٌ»**[(١)].

ترجمه: نبي عليه السلام د يوې وينځې نه تپوس وکړو چې (الله تعالى چيرته دى؟ هغې ورته ووېل په آسمان کې دى، بيا يې ترې تپوس وکړو چې زه څوک يم، نو هغې ورته ووېل ته د الله تعالى رسول يې، نو نبي عليه السلام وفرمايل دا ازاده کړه يقينًا دا مؤمنه ده).

---

## سوال١٢٧: په صفت د استواء باندې څه دليل دى؟

**جواب:** په صفت د استواء باندې دليل دا قول د الله تعالى دى: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ﴾ [طه: ٥]. ترجمه: (مهربان الله په عرش باندې استواء (برابر والى) کړيدى. او په قرآن کريم کې شپږ ځايه دا راغلي دي. ﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ﴾ په سورت [**الأعراف**:٥٤]، او سورت [**يونس**:٣] او سورت [**الرعد**:٢] او سورت [**الفرقان**:٥٩] او سورت [**السجدة**:٤] او سورت [**الحديد**:٤].

---

(١) رواه مسلم: (٥٣٧).

**سوال۱۲۸: د استواء معنی څه ده؟**

**جواب:** د استواء معنی برابروالی دی (یعني پورته شو په عرش باندې)، نو د استواء معنی په عربۍ ژبه کي معلومه ده او کیفیت (حالت) یې مجهول دی، لکه څنګه چي امام مالك رحمه الله فرمایلي دي: (استواء معلومه ده، کیفیت یې مجهول دی، او ایمان پرې واجب دی، او ددې په باره کي پوښتنه کول بدعت دی).

نو په ټولو صفاتو د الله تعالی کي همدا عامه قاعده (کلي قاعده) ده چي معنی یې معلومه ده او کیفیت یې مجهول دی.

---

**سوال۱۲۹: د قرآن کریم په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقیده ده؟**

**جواب:** د قرآن کریم په باره کي د اهل سنت والجماعت دا عقیده ده چي قرآن کریم د الله تعالی کلام(خبرې) دي، او حروف او معناګانې یې د الله تعالی د طرفه نازلې شوي دي، او مخلوق نه دی، د الله تعالی د طرف نه یې شروع شوی ده، او الله تعالی ته به واپس کیږي، او الله تعالی پرې حقیقي خبرې کړې دي، او جبریل علیه السلام ته یې اورولی دی، او جبریل علیه السلام د محمد صلی الله علیه وسلم په زړه

نازل کړې دی.

---

**سوال۱۳۰: په دې خبره څه دلیل دی چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی؟**

**جواب:** په دې باندې دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ﴾ [التوبة: ٦]. ترجمه: (او که یو تن د مشرکانو پناه وغواړي ستانه، نو پناه ورکړه هغه لره تر دې پورې چې واوري د الله تعالی کلام، بیا هغه د پناه (امن) ځاي ته ورسوه، دا په دې وجه چې دوی یو نا پوهه قوم دی). دلته د الله د کلام نه مراد قرآن کریم دی.

---

**سوال۱۳۱: په دې خبره څه دلیل دی چې قرآن کریم د الله تعالی د طرفه نازل شوی دی او مخلوق نه دی؟**

**جواب:** دلیل په دې خبره د الله تعالی دا قول دی: ﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾[الفرقان: ١].

ترجمه: (برکتونو والا دی هغه ذات چې لوړ لوړ يې نازل کړی دی قرآن په خپل بنده باندې، لپاره ددې چې شي مخلوقاتو لره ویره ورکونکی).

او دليل بيا په دې خبره چې قرآن كريم مخلوق نه دى هغه دادى: ﴿أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [الأعراف: ٥٤]. ترجمه: (خبردار! الله تعالى لره پېداكول دي، او حكم كول دي، بركتونه وركونكى دى الله تعالى، پالونكى د عالَمونو دى). په دې آيت مبارك كې الله تعالى پيداكول د حكم كولو نه جدا كړى دى، او قرآن كريم د حكم كولو نه دى، د وجې د دې قول د الله تعالى: ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ﴾ [الشورى: ٥٢] ترجمه: (او دغه شان مونږ وحي كړېده تاته د قرآن په خپل حكم سره).

او دا ځكه چې كلام د الله تعالى د صفاتو نه يو صفت دى، او صفات د الله تعالى مخلوق نه دي.

---

## سوال١٣٢: د اهل سنت والجماعت عقيده د الله تعالى په ليدلو كي څه ده؟

**جواب:** د اهل سنت والجماعت عقيده په ليدلو د الله تعالى كي دا ده چي د قيامت په ورځ به مؤمنان خپل رب ښكاره په خپلو سترګو په جنت كيويني.

---

## سوال۱۳۳: په آخرت کي د مؤمنانو الله تعالی لره په ليدلو باندې څه دليل دی؟.

**جواب:** په آخرت کي د مؤمنانو الله تعالی لره په ليدلو باندې دليل دا قول د الله تعالی دی. ﴿وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ۝٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ﴾ [القيامة: ٢٢- ٢٣]. ترجمه: (بعض مخونه به په دغه ورځ تازه وي، خپل رب ته به کتونکي وي).

او دا قول د الله تعالی ﴿لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ﴾ [يونس: ٢٦] ترجمه: (لپاره د هغه کسانو چي ښايسته عمل يې کړيدی ښايسته بدله ده، او دهغه څخه لازياته).

او په يو صحيح حديث کي راغلي دي چي «**الحُسْنى**» جنت دی او «**زيادَة**» د الله تعالی مخ ته کتل دي[1].

---

## سوال۱۳٤: د ايمان په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟

**جواب:** د اهل سنت والجماعت عقيده د ايمان په باره کي داده چي ايمان د ژبي وينا، د زړه اعتقاد او تصديق، او د

---

(۱) صحيح مسلم (۱۸۱).

اندامونو عمل ته وايي، او په اطاعت سره زياتيږي او په ګناه سره کميږي.

---

**سوال١٣٥: په دې خبره څه دليل دی چې قول او عمل د ايمان څخه دي؟**

**جواب:** په دې خبره دليل دا حديث د نبي صلى الله عليه وسلم دی: «**الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ**»[1]. ترجمه: (ايمان څه د پاسه اويا څانګې (شعبې) لري، په هغې کې غوره څانګه د «**لا إله إلا الله**» ويل دي، او ښکته درجه يې د لارې نه ضرري شی لرې کول دي، او حيا د ايمان څانګه (شعبه) ده.

نو حديث کې نبي عليه السلام قول او عمل د ايمان نه شمار کړي دي).

---

(١) رواه البخاري (٩)، ومسلم (٣٥) واللفظ له.

**سوال۱۳٦: په دې خبره څه دليل دی چي ايمان زياتيږي او کميږي؟**

**جواب:** په دې خبره دليل د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَيَزۡدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنٗا﴾ [المدثر: ۳۱]. ترجمه: (او زياتي شي ايمان د هغه خلکو چي ايمان يې راوړی دی).

او د ايمان زياتوالی ددې خبرې دليل دی چي ايمان د کموالي امکان هم لري.

---

**سوال۱۳۷: د مسلمانانو د جماعت سره د يوځاي کيدو په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟**

**جواب:** اهل سنت والجماعت د مسلمانانو د جماعت او د هغوی د امام سره يوځاي کيدل او پاتي کيدل او د هغوی نه نه جدا کيدل واجب ګڼي، او دليل يې دا قول د الله تعالى دی: ﴿وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ﴾ [آل عمران:۱۰۳]. ترجمه: (او منګولي ولګوئ (ای مؤمنانو) په رسی د الله تعالى باندې (چي قرآن دی) او په خپلو مينځو کي مه جدا کيږئ اختلاف مه کوئ.

**سوال۱۳۸: د حاکمانو او واکدارانو اطاعت په باره کې د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟**

**جواب:** اهل سنت والجماعت په نيکو کارونو کې د حاکمانو او واکدارانو اطاعت فرض ګڼي، اګر چې فاجران وي، او په دې باندې دليل د نبي عليه السلام دا حديث دی: «**عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ، فِيمَا أَحَبَّ وكَرِهَ، إِلَّا أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ**»[(۱)].

ترجمه: (په مسلمان بنده باندې (د خپلو حاکمانو خبره) اوريدل او منل لازمي دي، که دده خوښه وي او که نه، که چيري ورته امر په ګناه سره وشو، نو نه به يې اوري او نه به يې مني).

---

**سوال۱۳۹: د لوی ګناه کونکي په باره کې د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟**

**جواب:** د اهل سنت والجماعت په نزد په لويه ګناه څوک نه کافر کيږي، او نه به هميشه په اور کې پاتې کيږي، که د الله

---

(۱) رواه البخاري (۷۱٤٤)، ومسلم (۱۸۳۹).

تعالی خوښه شوه نو عذاب به ورکړي، او که يې خوښه شوه نو ښښنه به ورته وکړي، ځکه الله تعالی فرمائي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء: ٤٨].

ترجمه: (بيشکه الله تعالی نه ښښي دا چي شرك وکړی شي له ده سره، او ښښي هغه ګناه چي ښکته وي له شرك نه چاته چي وغواړي (که لويه وي او که وړه وي)).

---

**سوال١٤٠: مسلمان ته د کفر نسبت کول څنګه دي؟**

**جواب:** مسلمان ته د کفر نسبت کول حرام دي، ځکه نبي عليه السلام فرمائي: «مَنْ رَمَى مُؤمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ»[1].

ترجمه: (چا چي يو مؤمن ته د کفر نسبت وکړو دا داسې دی لکه چي هغه يي قتل کړو).

---

**سوال١٤١: د صحابه وو په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟**

**جواب:** د صحابه وو په باره کي د اهل سنت والجماعت عقيده دا ده چي د هغوی په باره کي د حسد، بغض او

---

(٢) رواه البخاري (٦١٠٥).

دشمني نه خپل زړه پاک ساتل، او صحابه وو ته د بدو ردو او کنځلو نه خپله ژبه ساتل، او د هغوی سره محبت کول، او د هغوی نه راضي کيدل، او د هغوی تابعداري کول، او هغوی ته دعا گاني کول، لکه څنګه چي الله تعالی فرمائي:

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ﴾ [الحشر: ١٠].

ترجمه: (ای ربه زمونږ! ببښنه وکړي مونږ ته او زمونږ هغه ورونيو ته کوم چي زمونږ نه يي مخکي ايمان راوړی دی.

---

**سوال١٤٢: د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اهل بيت (کورنی) په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟**

**جواب:** اهل سنت والجماعت د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اهل بيت سره د دوه وجو نه محبت ساتي، د ايمان د وجي نه، او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپلولی د وجي نه، ليکن دوی د اهل بيت په باره کي دومره زياتی نه کوي چي د هغوی عبادت وکړي او يا يې ګناه نه پاک (معصوم) وګڼي.

---

## سوال١٤٣: د ولاء او براء (دوستۍ او دشمنۍ) په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟

**جواب:** اهل سنت والجماعت ولاء او براء د ايمان د لوازماتو او د (**لا إلهَ إلا الله**) د مقتضياتو نه ګڼي.

د ولاء معنى محبت د مؤمنانو سره. او د براء معنى بغض او دشمني د کافرانو سره، او د هغوی نه او د هغوی د دين نه بيزاره کيدل، او د هغوی سره مشابهت نه کول دهغوئ په خاصو شيانو کې، ليکن د برائت تقاضا دا نده چي په هغوی دي ظلم او تجاوز وشي، او يا دي د هغوی سره دنياوي معامله بنده کړی شي.

---

## سوال١٤٤: د عيسى عليه السلام په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقيده ده؟

**جواب:** د عيسى عليه السلام په باره کي د اهل سنت والجماعت عقيده دا ده چي هغه د الله تعالى بنده وو، عبادت کول يي ناروا دي، او رسول وو، دروغجن ګڼل يي ناروادي، او د آدم عليه السلام د اولاد نه يو بشر وو، مخلوق وو، او بغير د پلار نه پيدا شوي دی.

---

**سوال١٤٥: د یهودیت او نصرانیت او د نورو دینونو په باره کي د اهل سنت والجماعت څه عقیده ده؟**

**جواب:** ددي په باره کي داهل سنت والجماعت عقیده داده چي د اسلام دین مخکیني ټول دینونه منسوخ کړي دي، او الله تعالی د نبي کریم صلی الله د نبوت نه وروسته بغیر د اسلام نه بل هیڅ دین نه قبلوي، او د اسلام نه بغیر نور ټول دینونه باطل دي.

---

**سوال١٤٦: د قرآن کریم نه په دې خبره کوم دلیل دی چي اسلام حق دین دی، او نور دینونه باطل دي؟**

**جواب:** د اسلام د دین حقانیت او د نورو دینونو په باطلوالي باندې د الله تعالی دا قول دلیل دی: ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ [آل عمران: ٨٥].

ترجمه: (او هغه څوک چي بیله اسلام نه بل دین ولټوي نو هیڅ کله به ونه منل شي د هغه نه، او هغه به په آخرت کي له زیانکارانو (تاوانیانو) څخه وي).

---

**سوال١٤٧: د سنت نه په دې څه دليل دی چې په اسلام او په هغه څه چې محمد صلى الله عليه وسلم راوړيدي، ايمان فرض دی؟**

**جواب:** د حديثو نه په دې باندې دليل دا دی چې رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «**وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ يَسْمَعُ بِي أحدٌ مِنْ هذِهِ الأمَّةِ لا يَهُودِيٌّ، وَلاَ نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النار**»[1].

ترجمه: زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، چې زما د نبوت په هکله ددې امت نه څوک خبرشي که هغه يهودي وي او که نصراني، او زما په رسالت او نبوت ايمان رانه وړي او مړشي نو جهنم ته به ځي.

---

**سوال١٤٨: د قرآن او حديث د نصوصو په باره کې د اهل سنت والجماعت څه موقف دی؟**

**جواب:** د الله تعالى د کتاب او دهغه د رسول دسنتو د نصوصو په باره کې د اهل سنت والجماعت موقف دادی،

---

(١) رواه مسلم (١٥٣).

چي د قرآن او د صحيح احاديثو ومنل شي، او په خپل عقل او خواهشاتو دهغي مخالفت ونه شي، او په دې باندې دليل د الله تعالى دا قول دی: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾ [النساء:٦٥]. ترجمه: (پس قسم دی په رب ستا چي نه مؤمنان نه ګڼل کيږي دوی تر هغه پوري چي خپل مينځني شخړو (جنګونو، لانجو) کي ستا فيصله ونه مني، او ستا دفيصلي په وړاندي په خپلو زړونو کي ناراضګي احساس نه کړي، او په ډېره خوښي يي ومني).

**سوال١٤٩: د الله تعالى په لار كي جهاد په باره كي د اهل سنت والجماعت څه موقف دی؟**

**جواب:** د اهل سنت والجماعت د الله تعالى په لاره کي د جهاد په باره کي دا عقيده ده چي جهاد د اسلام اوچت مقام دی، او د الله تعالى د دين د اوچت والي او سرلوړی لپاره روا شويدی، ليکن ددې لپاره خاص شرطونه دي چي لـه هغو نه اهم شرطونه دادي: چي د جهاد کولو قدرت او طاقت ولري، او د مسلمان حاکم يا امير د بيرق (جنډه) دلاندي وي.

**سوال۱۵۰: هغه خلك چي د جهاد په نامه فساد خوروي، بـي ځايه مرګونه كوي او خرابياني جوړوي، اوبيا خپل دغه عمل ته جهاد وايي، نو د هغوی په باره كي د اهل سنت والجماعت څه موقف دی؟**

**جواب:** اهل سنت والجماعت د دوی د دغه كارونو نـه بيـزاره دي؛ ځكه چي د دوی دغسي كړني د خوارجو پـه شـان دي، او داسـي كارونـه يـي د اسـلام نـوم بـدناموي، او دوی ويـره خوروي، بي ګناه خلك وژني، او د مسلمانانو په ملكونو كـي ضرر او فساد خوره وي.

**وبالله التوفيق، وصلى الله وسلم على نبينا محمد**

# فهرس الموضوعات


د مترجم مقدمه ........................................ ۳
تقريظ ........................................ ٥
تقريظ ........................................ ٦
د مؤلف مقدمه ........................................ ۷
باب دی په بيان د دري اُصولو کي ........................................ ۸
باب دی په بيان د ارکانو د اسلام او په معنی دکلمه دشهادت کي ........................................ ۱۰
باب دی په بيان د ارکانو د ايمان او دهغې په فائدوکي ........................................ ۱٤
باب دی په بيان د احسان او د هغې په فائدوکي ........................................ ۲۲
باب دی په بيان د توحيد او د هغې په فضائلو کې ........................................ ۲٤
باب دی په بيان د مرتدوالي کې ........................................ ۲۹
باب دی په بيان د شرک کې ........................................ ۳۳
باب دی په بيان د نفاق کي ........................................ ۳۷
باب دی په بيان د مشروع عبادت، او ممنوع بدعتونوکې ........................................ ۳۹
باب دی په بيان د اودس او غُسل کي ........................................ ٤٤
باب دی په بيان د مونځ کي ........................................ ٤۸
باب دی په بيان د زکات کي ........................................ ٥۷
باب دی په بيان د روژي کي ........................................ ٦۰
باب دی په بيان د حج کي ........................................ ٦۳
باب دی په بيان د عقيدي د اهل سنت والجماعت کي ........................................ ٦۹
فهرس الموضوعات ........................................ ۸۸